# شیخ فرید د پښین د لرغوني ادبي دورې یونامتوشاعر

**(Shaikh Fareed-A Renowned poet of Classical poetry from Pishin)**

عظیم ارمان *

**Abstract :**

In this article, the researcher has tried to trace out the history of a prominent classical poet, Sheikh Fareed; who, as the historical references had justified in this article, belonged to district Pishin. In this regard, various literary and historical books have been brought into light to pinpoint the exact location of Sheikh Fareed. The district Pishin has a very rich history of literature, no doubt. But what remains in obscurity is the issue of local populace who were unaware of his poetry. Sheikh Fareed was one of the most renowned poets of first literary period of district Pishin. In this context, all doubts regarding Sheikh Fareed have been addressed in this research paper.

**Key words:** Sheikh Fareed, Pashto, Classical Poetry, Pishin

د ځینې مستندو حوالو له رویه موږ دا خبره کوو چې د پښین او شاوخوا سیمې لومړۍ ادبي دوره له ۱۰۰۰م هجري څخه وروسته پیل کېږي. تردې وړاندې که څهٔ هم په دې تاریخي او د ادب له اړخه زرخېزه سیمه کښې به ضرور شاعرانواوادیبانو شتون درلودی. خو دهغو د ژوند او نورو ادبي موادو او شاعرۍ په هکله موږ هیڅ یو داسې تاریخي او ادبي سندپه لاس کښې نه لرو چې دغه دعوه وکړو چې تر ۱۰۰۰م هجري وړاندې دلته شاعرانو اولیکوالانو ژوند کاوه. کنې داسې کله هم نهٔ شي کېدلې چې دپښین په دې تاریخي او ادبي ټاټوبي کښې دي شاعرانو اولیکوالانو ژوند نهٔ کاوه. کله چې له ۱۰۰۰م هجري وروسته د ستر خوشحال خان خټک د ستري ادبي دورې اثرات پر ټول پښتانهٔ وطن او پښتو ادب خوارهٔ شو. په هم دغه وختونو کښې دلته د پښین په سیمه کښې هم دپښتوادب بڅرکی بل لیدل کېږي. خوشحال بابا د پښتانهٔ وطن له هرې سیمې سره خپله سپېڅلې مینه په اشعارو کښې څرګنده کړې ده. او د پښتنو د ډېرو سیموپه باب یې اشعار په بېلو بېلو کتابونو کښې تر سترګو کېږي. له هرچاسره یې خپله مینه او نفرت یې په ډاګه بیان کړی دی. او دپښتونخوا وطن له نورو سیمو سره سره د پښین د تاریخي مقام او د پښین د پښتنو پېغلو دستا ینې په هکله یې خپله یوه څلوریځه هغه وخت وئیلې وه کله چې ستر خوشحال خان خټک د پښین د تاریخي ناوې پر لار کندهار ته تېر شوی ؤ. ځکه نو موږ دا وئیلې شو چې پښین او د پښین د سیمې خلکو او په ځانګړې توګه ددې سیمې پښتنو پېغلو درې نیم سوه کاله وړاندې هم خوشحال خټک متاثره کړی ؤ. او دغه تاریخي ټاټوبي یوځانګړی مقام او ارزښت درلود. دلته د سترخوشحال خټک هغه څلوریځه هم را اخلو، کومه چې دهٔ د خپل سفر پر محال دپښین پر سیمه کندهار ته د تېرېدو پر وخت وئیلې ده.

---

* M.Phil Scholar, Department of Pashto, UOB, Quetta

"د شيتکو جونه سيالي پښتنې دي
خو په ژبه په پوښاک دي بر څېړني
د ابدالو جـونه واړۀ ګډېښې دي
که تريني دي د پښـين دي د ستايني" (1)

چې دلته د شعر اوادب د پيل کېدو نخښې تر سترګو کېږي، او موږ ګټه ځيني اخيستلې شو. او دا دعوه کولې شو چې د پښين په سيمه کښې د شاعرۍ او ادب اثرات له ۱۰۰۰م هجري وروسته تر سترګوکېږي. او په دې لرغونې اوتاريخي سيمه کښې دپښتواد‌ب دابتدا اثرات ځرګند دي. ځکه چې د محمد بن داؤدهوتک د تاريخي او ادبي تذکرې " پټې خزانې"له رويه دا خبره ځرګنده ده چې د شېخ متي اولادونه د پښتونخوا وطن له نورو سيموسره د پښين په شاوخوا سيمه کښې هم سره خوارۀ اواستوګن شول. خودلته به يوځل دا هم اوګوروچې شېخ متي څوک ؤ؟ ژوند ېې چېرې کاوه؟ محمدهوتک پۀ خپله تاريخي تذکره"پټه خزانه"کښې دشېخ متي اوددۀ د ژوندپه هکله ليکي.

"شېخ متي د شېخ عباس زوئ ؤ،چه عباس د عمر او عمردخليل زوئ ؤ، خليل د غوريا،غورياد‌کنداب‌ن خرشبون زوئ ؤ،چه د حضرت سړبني قدس الله له زامنو څخه ؤ، زما پلار عليه الرحمه ماته داسي نقل کا: چه: د شېخ خرښبون مرګ په مرغه کې ؤ،او اولاد يې هم په ارغسان او مرغه او پښين کي سره خپارۀ سول،ځيني ولاړه د ږوب او کوړک غرو ته، او امران او حسن د شېخ متي ورونۀ پر هغو غرو اوسيدل چي وروسته د مشر ورور په نامۀ مشهور سو.او بی بی خاله د دوئ خور په پښين کي وه چه هورې يې زيارت دی،يو بل ورور يې په ګرمام کي ښخ دئ نقل کا: چه : شېخ متي قدس الله سره په کال هجري ۶۲۳ زېږېدلئ ؤ، اوپه عمر د پينځه شپېتو کالو د ترنک پر غاړه وفات سو،او پر هغۀ غونډۍ ښخ دئ چي کلات بالۀ سي.نقل کا:چه: شېخ متي بابا لوئ زاهد او عابداو پرخاوند مين سړی ؤ،ددۀ اولاد ولاړه په پېښور او بدني مېشته سول، او هلته له دوئ څخه لوئ لوئ ستانه راووتل."(2)

دلته د"پټې خزانې "له برکته دا خبرۀ ښکاره شوه چي د شېخ متي اولادونه په هغو سيموکښې سره خوارۀ شول کومي چي نن هم د ارغسان، پښين، مرغې،کوړک، توبه اڅکزی، ږوب، بونير، سوات اوپېښور په نومونو شهرت لري. شېخ کټه متي زی چي د شېخ متي له اولادونو اوکړوسيانو څخه دی. ددۀ په اولادونوکښې يو هم شېخ قدم نومېږي چي دشېخ قاسم پلار ياد‌ېږي وئيل کيږي چي دغه شېخ قاسم څلور زامن درلودل چي شېخ کبير،شېخ واصل،شېخ نوراوشېخ فريد نومېدو. موږ دلته د شېخ فريد په هکله خبري کوو. څېړونکي او ليکوالان دا وايي چي دغه شېخ فريد کوم چي په کلي پيرانو پښين کښې يې مزاردی دا هم هغه شېخ فريددی کوم چي يې ذکر په" پټه خزانه"کښې شوی دی.او دغه شېخ فريد د سوهېلي پښتونخوا او دپښين ځيني شاعران اوڅېړونکي شاعرګڼي. اوددې تاريخي

ټاټوبې دپښتو ادب سرخيل يې بولي. موږ يې دلته د ژوند په باب خبري کوو اوداهم ګورو چي دغه شيخ فريد شاعر ؤ او که نهٔ ؤ؟ وئيل کيږي چي دغه شيخ فريدپه کندهار کښي ژوند کاوه. او وروسته بيا له کندهارڅخه د پښين سيمي ته راغلی اوهم دلته وفات شوی اومزار يي هم دلته دی.او ددې سره سره يې نورخپلوان هم دپښنوراوشاوخواسيموته ولاړو.دپښين دسيمي ښاغلی څېړونکی اوشاعرمحمد نعيم ازاد ددغه شيخ فريد د ژوند په باب په خپله يوه مقاله "سوهېلي پښتونخوا اوپښتو ادب "کښي داسي ليکي.

"د شيخ متي له اولادونوڅخه يو هم شيخ فريد و چي نن يې هم قبر او مزاردپښين ښار ته نيزدې د پيرانو په کلي کښي دی. د يوولسمي هجري پېړۍ ډېر ستر او اوچت نوم د ډېري درنې کورنۍ چي پر ټوله پښتونخوا خپره سوې د شيخ متي خليل کورنۍ ده.شيخ فريد(۱۰۰۰زوکړی) د شيخ قاسم (۹۵۶ زوکړی)زوئ، د شيخ قدم لمسی او د خواجه محمد خليل متي زي کړوسی ؤ" .(3)

واقعي هم د دغه شيخ فريد مزارد پښين د تاريخي ټاټوبي د پيرانو په کلي کښي اوس هم شته.او ددهٔ دمزارپه دروازه کښي ددهٔ د وروړشيخ نورقبرهم شته.دلته ددغه شيخ فريد پرمزار يوه ښکلې ګومبته هم جوړه ده.او يوه لويه هديره هم ورسره شته چي د پرنګي سامراج خلاف جنګيدلي غازي فيض محمد قبر هم د دغه هديرې سره نيزدې دی. دغه شيخ فريد کوم چي يې ښاغلی نعيم ازاد شاعر هم ګڼي ددهٔ قبر او زيارت ته نن هم خلک د دعا لپاره ورځي او هلته دعاوي او خيراتونه کوي. او څوک چي يې ځانونه اولادونه ګڼي .په هغو کښي دځينو کورونه نن هم په کلي پيرانو او بابومحله کښي دي. ښاغلی محمد نعيم ازاد ددغه ياد شوي شيخ فريد او ددهٔ د اولادونو په هکله په خپله مقاله"سوهېلي پښتونخوا اوپښتو ادب"کښي وړاندي داسي ليکي.

"خود پټې خزانې تعليقات يې ټوله کورنۍ ډېره څرګندوي او ډېر په زړهٔ پوري معلومات لري. او د دغه کورنۍ د نوموړي پير او شاعرشيخ فريدبابا مزار په پښين کښي دی چي ډېره په زړهٔ پوري ګومبته لري او په پيرانو نومي کلي کښي استوګن يې اوس هم ځانونه خليل ګڼي.د سوهېلي پښتونخوا د تاريخ يو ځلنده څپرکی جوړوي". (4)

ښاغلی څېړونکی او شاعرمحمد نعيم ازاد هم دخپلودغوخبرو حواله دښاغلي شاعراو ليکوال پروفېسر افضل رضا له کتاب"دپښتو غزل"او د پټې خزانې له تعليقاتو څخه ورکوي. خود پټې خزانې په تعليقاتو کښي هم داخبره څرګنده نهٔ ده چي دغه شيخ فريد چي د شيخ قاسم زوی اود شيخ قدم لمسی ؤ د پښين ؤ اوشاعر ؤ. ښاغلي افضل رضاپه خپل کتاب کښي داخبره ليکي چي دغه شيخ فريد دپيرباباکړوسی ؤ او يو ښهٔ شاعرهم ؤ خو دا ذکر يې نهٔ دی کړی چي ددغه شيخ فريد تعلق د پښين له خاؤري سره ؤ.ښاغلي افضل رضاپه خپل کتاب کښي داسي ليکي.

"شېخ فريد د پير بابا کړوسی او د ميا قاسم ځوی ياد ېږي د " تېر هېر شاعران"کتاب ښاغلی ليکوال يې دا يو غزل د کريمداد اخوند له الف نامې د شرحې سره موندلې بيا ليکلې"د شېخ فريد د ژوند نور حالات معلوم نۀ دي. خو داسي ښکاري چه د يوولسمي صدۍ هجرۍ نه پس تير دی".(5)

دلته داپوښتنه هم را پيدا کېږي چي د پښين د سيمي ټول خلک دغه شېخ فريد د يوۀ شېخ او پير په حېث ډېر زيات پېژني مګر د يوۀ شاعراو ليکوال په حيث يې بالکل نۀ پېژني.حتی چي کوم خلک ځانونه د دۀ اولادونه ګڼي هغه يې هم د يوۀ نېک سړي او يوۀ پير په حيث پيژني خود شاعر په حيث يې ډېر لږ پېژني اوله ګمان څخه کاراخلي. ددۀ په کړوسيانوکښي ما د پير فضل خالق سره يوه تفصيلي مرکه کړې ده. چي نن هم د پښين ښار په بابومحله کښي ژوند کوي. دلته د هغه دخولې خبري هم ټکي په ټکي راوړم.

" پوښتنۀ:پير صاحب که خپل ځان را معرفي کړې؟

ځواب:زما نوم پير فضل خالق دی .د پير عبدالصادق زوئ يم. د پير عبدالسلام لمسی يم.د پير يارمحمد کړوسی يم.او کورمي په پښين بازارکښي دی.

پوښتنۀ: ما داسي اورېدلي دي چي ستاسو تعلق د شېخ فريدله کورنۍ سره دی دا خبرۀ څومره حقيقت لري؟

ځواب:زۀ دشيخ رکن الدين په کړوسيانو کي راځم او دغه ډول د شېخ قطب ا لدين، بيا د شېخ قيام الدين ،د شېخ صلاح ا لدين ،د شېخ نجم ا لدين ، د شېخ جلال الدين، د شېخ عبد الرزاق، د شيخ امام الدين رح چي په پښور کي يې مزار دی او د شېخ فريد بابا لمسی دی.شيخ امام الدين د شېخ فريد بابا د مشر ورور شېخ عبدالکبير زوئ دی. شېخ کبير چي په پير بالا مشهوره دی مزار يې دورې په پيربالاکي دی.دا ټول ډېر پخوا تېر سوي دي. دا ټول د شېخ قاسم رح اولادونه دي. شېخ کبير يې مشر زوئ دی،شيخ فريد يي زوئ دی،شېخ واصل يي زوئ دی او شېخ نور يې دی.او شېخ قاسم رح د اکبر باچازوئ جهانګير چي کله باچا سو بيا يې زموږ دا نيکۀ شېخ قاسم ګرفتار کړی.دوه کاله ددۀ په نظربندي کي ؤ.د انډياپه چنارګړ کي نو بيا دی په هغه نظربندي کي وفات سو.اوس يې مزار په چنارګړ کي دی.

پوښتنۀ:د شېخ فريد شاعر د شعر او شاعري په هکله څومره معلومات لري؟

ځواب: د شېخ فريد نۀ کتاب ماته په لاس راغلی دی او نۀ يي ماته شاعري په لاس راغلې ده او نۀ ما داسي اورېدلي دي چي شېخ فريد شاعر ؤ.خو دومره خبر سوی يم چي يو څۀ شعرونه يي ليکلي ؤ. مګر لکه څنګه چي ددۀ په ورونوکي ځينو کتابونه ليکلي وو نو کېدائ سي چي دۀ به هم شعرونه ليکلي وو.البته زۀ يې د شاعر په حيث ډېر کم پېژنم .لکه څنګه چي د شېخ کته متي زي"لرغوني پښتانۀ" ؤ. او د شېخ متي کتاب ؤ د"خدائ مينه" او شيخ قاسم "تذکرۀ اوليائۀ افغان"ليکلی ؤ.او شېخ امام الدين رح هم "تاريخ

پښتون" په فارسي زبان کي ليکلی ۏ.او د شېخ امام الدين يو بل کتاب هم پيدا سوی دی او په پېښور کي زما سره يو چا وعده کړې ده چي زۀ دا کتاب درکوم.او په دې باب زموږ عزيز افسرخان خليل هم کتابونه ليکي زۀ به په را روان وخت کي په دې باب هم معلومات را ټولوم.

**پوښتنۀ:** تاسو د شېخ فريد په اولادونو کښې د چا په کورنۍ کښې ياست؟

**ځواب:** ميا نعيم يا شېخ نعيم د شېخ شمس الدين په اولاد کي راغلی دی.موږ بيا د شېخ نجم الدين په اولاد کي يو او موږ ټول بيا پر شېخ عبدالرزاق باندي سره يو ځائ کېږو.او بيا ټول د شېخ امام الدين او شېخ کبير په اولاد کي راځو.د شېخ فريد بابا خو يو زوئ ۏ.چي ماشوم ۏ او پلار ښيرا ورته وکه او مړ سو.د کندهار په ناکودک کلي کي پنجوايي اولسوالي ولايت کندهار کي اوس هم قبر دی.زۀ خپله ورغلی يم او هلته زموږ نور نيکۀ ګان هم دي لکه شيخ قطب الدين،شېخ رکن الدين،شيخ قيام الدين او شېخ صلاح الدين د دې ټولو مزارات هلته په کندهار کي دي.د شېخ قطب الدين اولادونه اوس هم هلته دي.موږ چي په پښين کي پراتۀ يو موږ د شېخ رکن الدين په اولادونو کي يو.او دا نور زموږ سره چي کوم پيران دي دا بيا ټول د شېخ شمس الدين اولاد کي دي.په پېښور کي چي زموږ خپلوان دي هغه هم نيمی دشېخ رکن الدين يعني زموږ له خاندان څخه دي او نيمی بيا دشېخ شمس الدين په اولادونو کي دي.

**پوښتنه:** داخبرۀ چي "شېخ فريده پټه خولۀ دي بهتري ده" د پښين په نسبت په بونير او سوات کښې ديو بل شېخ فريد په باب هم ډېره مشهوره ده. ته په دې باب څۀ وئيل غواړې؟چي دا خبرۀ څومره حقيقت لري؟

**ځواب:** ما خو چي څومرۀ معلومات کړي دي نود شېخ فريد يو زوئ ۏ چي په ناکودک مشهوره ۏ داخبره داسي ده چي په کندهار کي وادۀ ۏ نو د شېخ فريد يو زوئ ۏ نو په کلي کي وادۀ ۏ دۀ ته يې ست نۀ ۏکړی خو دۀ دا غوښتو چي په جنج يا وراکښې ولاړشي خلکو دی په ورا کي نۀ بيولو نو دی پر دېوال کښېنستی او پرخلکو يې دېوال را وګرځاوئ.نو د کلي خلک شېخ فريد ته راغلو چي ستا زوئ پر ورا دېوال را وګرځاوئ نو خلک يي ټول را وګرځول.نو وايي چي شېخ فريد بيا خپل زوئ ته ووئيل چي ته خو ماشوم او کودک يې دا لاړ خلاصه که.دۀ وئيل زۀ ناکودک يم يعني غټ يم او نن هم په دا نامۀ په کندهار کي کلی سته .نو شېخ فريد زوئ ته ښېرا وکه او زوئ يې ّمړ سو ځکه نو خلکو دۀ ته دا ووئيل چي شېخ فريده ،پټه خولۀ دي بهتري ده.يعني که تا داسي نۀ وائ وئيلي نو زوئ به دي نۀ مړکېدلائ.او دا خبرۀ په افغانستان کي هم ماته خلکو داسي کړې ده.او زۀ په کال ۱۹۷۳ع کي هلته تللی وم.

**پوښتنۀ:** د شېخ فريد د لاس يوداسي څۀ تاسو په لاس کښې لرئ که هغه هر شی وي؟

**ځواب:** ددۀ د لاس يو څۀ خو نۀ لرو خو ددۀ د لمسيانو د لاس کاغذات، قوالې سته چي تقريبا دوه يا دوه نيم سوه کاله مخکي تاريخ لري. او د شېخ قاسم د شېخ فريد د پلارجبه مبارکه اوکچکول اوس هم په پېښور کي زموږ له خپلوانو سره سته چي دۀ ته د پير عبدالقادر جيلاني لمسيانو ورکړې وه.نور څۀ يي زموږ سره نسته ولي چي تر څلور سوه کاله ډېره موده سوې ده.

**پوښتنۀ**: د شېخ فريد له ورونو او مور او پلار څخه بل څوک دلته مزار لري او که يوازي شېخ فريد دلته ښخ دی؟
**ځواب**:ددۀ په مزار کي ددۀ د ورور شېخ نور قبر هم سته چي ددۀ په څنګ کي ښخ دی.او د شيخ نور اولاد نسته".(6)

ښاغلی پير فضل خالق چي کومي خبري دخپلو نيکونو ،شېخ قاسم اوشېخ فريد په باب کوي نو هغه هم د دغه شېخ فريد په هکله کوي کوم چي د پټي خزانې مؤلف يې د پټې خزانې په تعليقاتو کښي را پېژني. ښاغلی محمدنعيم ازاد هم د دغه شېخ فريدپه هکله معلومات راکوي. خو ددې سره سره نعيم ازاد او پيرفضل خالق دا دعوه هم کوي چي دا شيخ فريد هم دغه د پښين شېخ فريددی. دپټې خزانې مؤلف يې هم دشېخ متي، شېخ يوسف ،شېخ کټه متي زي له اولادونو څخه ګڼي او د شېخ قاسم زوئ يې بولي او دشېخ قاسم داولادونو په هکله په خپله تذکره"پټه خزانه"کښي ليکي.

"شېخ کبير المشهور به پير بالا که عشاۀ پنجشنبه چهارم ماه شوال(۹۹۴هجري) در بدني پشاور متولد و(۱۲) رمضان (۱۰۵۴هجري) از جهان رفت.علاوه برين اخوند درويزه نيز ذکری ازشېخ کبير مينمايد،و ازان بر می ايد،که شهرت عرفانی وی دران عصر،بهر طرپېچيده بود.وی در هندوستان از دنيارفته،و مدفن او درقنوج هند است. فرزندان ديگر شېخ قاسم: واصل متولد (۱۰۰۷)،نور متولد (۱۰۶۱) فريد متولد (۱۰۰۰)".(7)

که چيري مونږ د پټې خزاني تعليقاتواو ددې سره سره د ښاغلي محمد نعيم ازاد خبرو اوحوالو ته پام اوکړو اودښاغلي پروفېسر افضل رضا کتاب "دپښتو غزل " کښي د شېخ فريد ذکر ته لږغورو فکر اوکړو نو داخبرۀ څرګنده او ښکاره ده چي دا ټول ديوۀ شېخ فريد ذکرکوي.خودا نۀ ده څرګنده چي دغه شېخ فريدهم دغه دپښين شېخ فريد ؤ.اوکه يو بل شېخ فريد هم په پښتونخواوطن کښي ژوندکړی دی؟دايوه ډېره ځانګړې پوښتنه ده ؟

ددې خبري د سپيناوي دپاره دا ضروري ګڼوچي دا خبره نوره هم وڅېړو ځکه چي په پښتونخوا وطن کښي يو بل شېخ فريدهم تېر شوی دی چي دبونيرپه سيمه کښي يې ژوند کولو وئيل کېږي چي دغه شېخ فريد دشېخ بوډا بابا خوريي ؤ.په خټه خليل زئی ؤ او له جدون قبيلې سره يې تعلق ؤ.ددغه شېخ فريدد ژوندزمانه کال ۱۸۳۲عيسوي ،يعني ديارلسمه هجري پېړۍ ده.وئيل کېږي چي دغه شېخ فريديو عارف،بزرګ او ولي الله ؤ خودا چي شاعرهم ؤ؟ په دې هکله تعارف افغان جدون "کښي يو ځای هم ذکر نشته. ددغه شېخ فريدد ژوند او زمانې په هکله ښاغلی عبدالحليم جدون او پروفېسر عبدالقاسم جدون وړاندي ليکي.

" ۱۸۲۰کا زمانہ ہے اور سکھوں کے ساتھ جنگ کا پہلا دن ہے۔ گاؤں کے واحد مشترکہ حجرے کے صحن میں مشران چارپائیوں پر بیٹھے ہوئے ہیں۔ اور آپس میں جنگ پر تبادلہ خیال کر رہے ہیں اور کشران حجرے کے دیواروں کے ساتھ لگے ہوئے پتھروں کے سلوں پر بیٹھ کر مشران کی گفتگو خاموشی سے سن رہے ہیں۔ کسی کشر کو اجازت نہیں کہ مشران کے ساتھ چارپائی پر بیٹھ کر ان کی گفتگو میں حصہ لے

سکے۔ کسی مشر کے حجرے میں داخل ہونے پر یا کسی مشر کی حجرے سے نکلنے پر تمام کشران اپنی اپنی جگہوں پر تعظیما کھڑے ہو جاتے ہیں۔ کہ اتنے میں کسی نے کہا جنگ کا کچھ پتہ چلا کہ کیا ہوا ہے۔ دوسرے نے کہا کہ یہاں حجرے میں بیٹھ کر کیا پتہ چلے گا، تیسرے نے کہا جل میں بیٹھ کر آنے والوں سے پتہ چلے گا کہ کیا ہوا؟ یہ سن کر کشران میں سے چند نوجوان اٹھ کر کہنے لگے کہ ہم جل جا کر آنے والوں سے معلوم کر کے ابھی آتے ہیں۔ یہ نوجون حجرے سے نکل کر جل چوک کے نزدیک پہنچے تھے کہ ان میں سے ایک نوجوان نے چوک میں سامنے سے آنے والے ایک آدمی کی طرف اشارہ کرتے ہوئے زور سے کہہ دیا کہ دیکھو شیخ پھندے بابا بغیر سر کے آرہا ہے۔ اس نوجوان کا اتنا کہنا تھا کہ شیخ پھندے بابا اسی جگہ زمین پر گر گیا۔ شیخ پھندے بابا کے بغیر سر کے گاؤں آنے کی خبر یکدم سارے گاؤں میں پھیل گئی اور لوگ گھروں سے نکل کر دوڑتے ہوئے جل چوک آنے لگے۔ تھوڑی دیر میں بہت سے لوگ جمع ہوگئے۔ شیخ فرید بابا کو بھی اطلاع مل گئیکہ شیخ پھندے بابا جل چوک میں بغیر سر کے پڑا ہوا ہے۔ شیخ فرید بابا اسی وقت جل چوک میں آکر شیخ پھندے بابا کے مردہ جسم کے پاس بیٹھ گیا اور شیخ پھندے بابا کے سینے پر ہاتھ رکھ کر کہنے لگا۔ کہ بھائی شہادت مبارک ہو تم نے سر کٹا کر اپنا وعدہ پورا کر دیا".(8)

نو تر هرڅه وړاندې چي موږ نورهم دشېخ فرید په هکله څېړنه اوکړواو دا خبره ځان ته معلومه کړو چي کوم شېخ فریدشاعر ؤ؟نو لومړی باید چي دا خبره روښانه اوڅرګنده شي چي شېخ قاسم چي د شېخ فریدپلار یادېږي څوک ؤ؟ د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک دشېخ قاسم د ژوندپه هکله په خپله تذکره"پټه خزانه" کښې وړاندې لیکي.

"شېخ قاسم را غوث الزمان و از مریدان اولاد شیخ عبدالقادر جیلانی میداند وګوید:که در بهار سال (۹۵۶هجری)کنار رود بدنی(شرق پشاور)بدنیا آمد،ووفاتش (۱۰۱۶هجری) است.قاسم افغان در پشاور به معرفت و روحانیت شهرت کرد،و مردم آنجابه وی ګرویدند،و نفوس راکسب نمود،بنابران شادمان خان حکمران پشاور قصد کشتن وی کرد، شیخ قاسم بترک پشاور مجبورګردید،و به قندهار رفت، و از آنجابزیارت حرمین شتافت،و بعد از سفر حج ،شیخ قاسم پس به (دو آوه) پشاور آمد،و در آنجاکسب اقتدار علمی و روحانی نمود،و به شیخ قاسم سلیمانی شهرت یافت.درین بار از طرف دربار مغولی طلبیده شد. بعداز انکه شیخ به لاهور رفت،در آنجا اقتداری وسیع تر،و نفوذی عظیم تر بدست آورد وبسی از اهل لاهور به وی ګرویدند،بنابران جهانګیر ویرا درقلعۀ چنار محبوس ګردانید،وهم در آنجااز دنیارفت".(9)

دپښتو ژبې نوموړی څېړونکی ښاغلی مولاناعبدالحلیم اثرپه خپله تذکره"تېر هېر شاعران" کښې دیادشوي شېخ فرید په باره کښې تر ډېره پورې داخبره څرګنده کړې ده چي دغه شېخ فریدڅوک ؤ؟ اوچېري يې ژوند کړی ؤ؟ مولاناعبدالحلیم اثرهم دغه شېخ فریددمیان قاسم زوئ یادوي اوددۀ د ژوندپه هکله داسې لیکي.

"د میان مصطفی ابن سیدعلي ترمذي رح د دویم ځوئ میان قاسم د یو ځوئ نوم شیخ فرید دی. او هر کله چه اخون کریمداد ابن اخون درویزه رح او د پیر بابا ابن میان قاسم ابن

میان نوسی یعني حسین ابن حسن ابن میان مصطفی او شیخ فرید ابن میان قاسم ابن میان مصطفی دا ټول په علمي لحاظ سره یوه کورنۍ ده.په دې وجه د شیخ فرید غزل داخوند کریمداد د الف نامې د شرح سره لیکلې شوې ده".(10)

دا خبرهٔ ډېره د پام وړ ده چي د ذکرشوي شېخ فرید په باب ډېرڅېړونکي اولیکوالان په یوه خولهٔ دي. چي دغه شېخ فرید دخپل وخت یوښهٔ شاعر ؤ اویوځانګړی سبک یې درلود.غزل یې ډېرساده او رواني لري او یوه غزل یې په یوهٔ کتاب کښي هم چاپ شوې ده.او په دغه وخت کښي دهٔ په قصور کښي ژوندکاوه.په دې هکله ښاغلی قاضي عبدالحلیم اثرپه خپل کتاب"تېرهېر شاعران "کښي داسي لیکي.

دغه کنزالدقایق کتاب په لاس د عاشور بیګ کاتب لیکلی شوی دی او هم په دې کتاب کښي د شیخ فرید دا یو غزل لیکلې شوې دی دلته دا نظم په خپل اصلي رسم الخط کښي په دې غرض لیکم چي دخپل مخصوص سبک او طرز اندازه لګول یې اسان شي .دومره ویلې شو چه د سنه ۱۱۰۰ نه تر سنه ۱۳۰۰ هجري په زمانه کښي په قصور کښي د پښتو ژبي د ادب سره یې تعلق موجود وو غزل یې دادی.

" شاه چه دا هسي رنګ زړی ګونه بیماره ګرزی
د ښو یارانو جدایي شو ه ناقراره ګرزی

مینه دي اور کړه عاشقان دی وسوو
دا بیګانه عالم د بیرته له انګاره ګرزی

مینه د زنار کړه د خپل یار په غاړه
هغه عاشق نه دی چه بې ستا له زناره ګرزي

ګل د نهال کړ د خپل یار په غولی
شها د یار تر باغ چاپیره شوه ملیاره ګرزی

نور عالم د حوری جنتونه غواړي
دا شیخ فریدد طمعدار ستاله دیداره ګرزی ". (11)

ښاغلي پروفېسر افضل رضاچي په خپل کتاب"د پښتو غزل" کښي د کوم شېخ فرید د ژوند په هکله خبرهٔ کوي نو هغه هم دغه شېخ فرید یادوي دچاپه باب چي ښاغلی نعیم ازاد، ښاغلی پیر فضل خالق، محمدهوتک اومولاناعبدالحلیم اثر وړاندي خپلي خبري کړي دي.ځکه نو دې ټولو خبرو اوحوالو ته که

موړ،غوراوفکراوکړو نو دغه شېخ فرید د خپل وخت یونوموړی اونامتوشاعر ؤ.دکوم شېخ فریدچي نن هم دپښنین په پیرانوکلي کښي مزار موجود دی،اودامتل چي نن هم دپښنین په سیمه کښي يې ډېری خلک په خپل هر ورځني ژوندکښي کاروي چي وايي" شېخ فریده پتهٔ خولهٔ دي بهتري ده.

دا متل دپښنین اوسوهېلي پښتونخوا خلکو هغه شېخ فرید ته منسوب کړې دی.دکوم شېخ فرید مزارچي په پښنین کښي دی. او ددې سیمي خلک دامتل ددهٔ د زوئ د مرګ له پېښي سره تړي وئیل کېږي چي دغه شېخ فرید یو زوئ درلود.چي یو وخت په کلي کښي وادهٔ ؤ نو ددهٔ زوئ خلکو په ورا کښي نهٔ بوتلو نو دهٔ پر دغهٔ ورا یا جنج باندي دیوال را وګرځولو نو دکلي خلک شېخ فرید ته راغلو او د زوئ شکایت يې ورته وکړو.وئیل کېږي چي شیخ فرید زوئ ته ووئیل چي ته کودک یعني ماشوم يې ته په ورا کښي مه ځه نو ددهٔ زوئ ورته ووئیل چي زهٔ کودک نه یم زهٔ ناکودک یم یعني ماشوم نهٔ یم. څېړونکي وايي چي په کندهار پنجوایي اولسوالي کښي نن هم د شېخ فرید د زوئ د "ناکودک"په نامه یو کلی شته چي خلک يې ځانونه اوس هم متي زي بولي.اود سیمي خلک یي ډېرقدر اواحترام کوي.دپښنین دعلاقې خلک دغه شېخ فریدته ډېرزیات عقیدت او احترام لري.خود شمالي پښتونخوا دبونیر،سوات ،باجوړاو نورو سیمو کښي دا متل د هغه شېخ فرید په هکله وئیل کېږي کوم چي دښاغلي عبدالحلیم جدون او پروفېسرعبدالقاسم جدون د وینا مطابق دبونیرپه شاوخواسیمه کښي يې مزاردی.ښاغلی عبدالحلیم جدون اوښاغلی پروفېسرعبدالقاسم جدون په خپل ګډڅېړنیز اثر" تعارف افغان جدون،شېخ فریده چپه خولهٔ دي بهتري ده " کښي ددغه شېخ فریدد ژوند دوروستیو حالاتو،مزار اوددې متل په باب داسي لیکي.

" ایک دن شیخ فرید بابا اپنے گھر میں داخل ہوا تو سامنے مویشیوں کو دیکھ کر محسوس کیا کہ ان کو تو پیاس لگی ہوئی ہے۔سیدھا جاکر تمام مویشیوں کو کھونٹوں سے کھول دیا۔اور گھر سے باہر پانی پلانے کے لیے لے گیا۔ان دنوں گھروں میں کنویں نہیں ہوتے تھے۔پورے گاؤں میں پانی بھرنے کے لیے صرف دو کنویں تھے۔جس سے سارا گاؤں اپنی ضروریات پوری کرتا تھا۔گاؤں کی دونوں کنوں پر لوگوں کی بھیڑ کی وجہ سے شیخ فرید بابا نے اپنے مویشیوں کو پہاڑ کی طرف ہانک دیا۔پہاڑی چشمے پر لے جاکر پانی پینے کے لئے چھوڑ دیا۔مویشی پالنے والوں کی عادت ہوتی ہے کہ مویشیوں کو پانی پلاتے وقت وقفے وقفے سے ایک مخصوص قسم کی سیٹی منہ سے بجاتے ہیں۔تاکہ مویشی خوب پیٹ بھر کر پانی پی لیں۔شیخ فرید بابا نے بھی جانوروں کو دیکھ کر جب سیٹی بجائی تو اچانک اپنے دائیں کندھے کی طرف دیکھ لیا۔کیا دیکھتا ہے کہ کراماکاتبین فرشتہ نے انسانی شکل صورت میں ایک ہاتھ میں کاغذ اور دوسرے ہاتھ میں قلم لئے کھڑا ہے اور کاغذ پر قلم سے سیٹی بجانا لکھ دیا۔شیخ فرید نے یہ دیکھ کر فرشتے سے کہا کہ میں نے تو بات نہیں کی۔جانوروں کو پانی پلانے کے لئے صرف سیٹی بجائی ہے اور تم نے لکھ دیا۔فرشتے نے جواب دیا کہ ہمیں یہ حکم ہے کہ جو کچھ بھی انسان منہ سے نکالتا ہے وہ لکھتے ہیں۔تم نے سیٹی بجائی اور ہم نے لکھ دی۔شیخ فرید بابا نے یہ سن کر کہا اچھا اور اسی وقت زبان پر یہ الفاظ آگئے کہ

" شیخ فریدہ، خلہ چپہ بہتری دہ"

اس واقعے کے بعد شیخ فرید بابانے لوگوں کے ساتھ میل جول اور بول چال بہت کم کر دی۔ صرف ضروری بات کرتے اور وہ بھی مختصر۔ ہر وقت ذکر واذکار میں مصروف رہنا اپنا شعار بنالیا".(12)

نتیجه: په دې ليکنه کښې موږتر خپله وسه دا هڅه کړې ده چې داخبره واضح او ثابته کړوچې شېخ فريد ديو پيراو ولي الله سره سره د پښنين دتاريخي خاؤري دلومړۍ ادبي دورې يو نامتوشاعر هم ؤ.ځکه چې دشېخ فريدپه هکله داسي خبري هم کېدلې چې دپښنين په خاؤره کښې چې د کوم شېخ فريدمزار دی دايو پيرخو دی مګر دشاعرپه حيث هيچاهم نۀ پېژندلو.تر دې پوري چې خپلو لمسيانو او کړوسيانو هم د يوشاعرپه توګه نۀ پېژندلو. ددې ليکنې په رڼاکښې دا خبره موږ تر ډېره حده ښکاره کړې ده چې دکوم شېخ فريدذکر چې په تارېخي کتابونو پټه خزانه، تېر هېرشاعران،دپښتوغزل او نورو کښې شوی دی. ددې ټولوکتابونو ليکوالانو د ليکنواوحوالوڅخه داخبره څرګندېږي چې د کوم شېخ فريدچې دپښنين په تاريخي ټاټوبي کښې مزار دی ،دغه شېخ فريدديوپير سره سره د خپل وخت يونامتو شاعرهم ؤ. او کوم شېخ فريد چې د بونير په سيمه کښې يې ژوند تېر کړی دی داشېخ فريديو خو شاعر نۀ ؤاو بل دا شېخ فريد د پښنين د سيمي تر شېخ فريد دوې پېړۍ وروسته تېر شوی دی.او زموږ دا ليکنه په راتلونکي وخت کښې په دې باب د لوستونکو سره په نوره څېړنه کولو کښې ښه مرسته کولې شي.

# حوالې

(1) رسا ، سیدرسول، مقدمۀ ارمغان خوشحال، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور، ۲۰۰۱، مخ ۶۸۷
(2) هوتک، محمدبن داؤد ، پټه خزانه، سریزه دپوهاند عبدالحیٔ حبیبي، پښتونړیواله مرکه، پښتونخوا، ۲۰۱۶، مخ ۵۱
(3) ازاد ، محمد نعیم، لمبه، دوه میاشتنۍ مجله، دریم کال، څلورمه ګڼه، پښتو ادبي غورځنګ، کوټه، ۲۰۰۵، مخ ۱۷- ۱۸
(4) همدغه اثر ، مخ ۱۸
(5) رضا ، افضل پروفېسر(۱۹۷۸) دپښتوغزل(ترتیب وتدوین) پښتواکېډمۍ، پېښور ، مخ ۲۵۸
(6) فضل خالق، پیر ، مخ په مخ مرکه، ځایٔ :د پیر فضل خالق کور بابومحله، پښین ښار ، نېټه، ۲۰۱۹-۱۰-۱۳
(7) هوتک، محمد بن داؤد ، د پټې خزانې تعلیقات (دوئم چاپ) د پوهني وزارت د دارالتعالیف، ریاست، افغانستان، ۱۳۲۹ق، مخ ۲۱۶ - ۲۱۷
(8) جدون، عبدالحلیم و جدون، عبدالقاسم، پروفېسر ، تعارف افغان جدون- شېخ فریده، خولۀ چپه بهتري ده، تنظیم اتحادجدون ، مردان، دچاپ کال نۀ لري، مخ ۴۰-۴۱
(9) هوتک، محمدبن داؤد ، د پټې خزانې تعلیقات (دوئم چاپ) د پوهني وزارت ددارالتعالیف، ریاست، افغانستان، ۱۳۲۹ق، مخ ۲۱۶
(10) اثر ، عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، پښتواکیډیمي پېښور یونیورستي، پېښور، ۱۹۶۳، مخ۳۳
(11) هم دغه اثر ، مخ ۳۲- ۳۳
(12) جدون، عبدالحلیم و جدون، عبدالقاسم، پروفېسر ، تعارف افغان جدون- شېخ فریده، خولۀ چپه بهتري ده، تنظیم اتحادجدون ، مردان، دچاپ کال نۀ لري، مخ ۴۲- ۴۳